مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم

۲۰۲۳/۰۳/۲۸

نورو ژبو ته د پښتو ادبیاتو ژباړه

د ۲۰۱۲ دري میاشتي مي د امریکا د متحدو ایالتونو په مختلفو ښارونو کي تېري شوې. د څو پوهنتونونو استادانو راته وویل: «موږ غواړو خپلو شاګردانو ته د افغاني ادبیاتو بېلګي تدریس کړو. څنګه یې راپیدا کړو؟»
ما له ملګرو او اشنایانو پوښتني وکړې خو څه مي تر لاسه نه شول. دا چي د دنیا په دې دومره ډېرو ژبو کي نړېوال زموږ له ادبیاتو سره دلچسپي لري، لویه نیکمرغي ده خو له بده مرغه موږ په دې برخه کي کافي کار نه دی کړی.
اوس چي دا مهمه موضوع بیا رابرسېره شوې ده، هڅه مي وکړه چي هغه پښتو آثار رامعلوم کړم چي نورو ژبو ته ژباړل شوي دي. البته دلته موخه بهرنی ژبې دي، ځیني اثار پارسي ته هم ژباړل شوي دي خو دا چي پارسي د افغانستان یوه ژبه ده، دغه اثار به نه یادوو. کولای شو چي نورو ژبو ته ژباړل شوي آثار له لویه سره په دوو برخو وویشو: د شعرونو او کیسو غورچاڼونه او بشپړ اثار.
غورچاڼونه
۱ .په نولسمه میلادي پېړی کي بیلیو، دارمستتر او مېجر راورټي د پښتو کلاسیکي شاعری منتخبات انګرېزي ته ژباړلي وو. انولدسن د رحمان بابا د دیوان ډېره برخه انګلیسي ته اړولي ده. د خوشحال ختک د شعرونو یوه برخه اولاف کیرو انګرېزي ته ژباړلي ده.
۲ .استاد سعدالدین شپون په شپېتمو میلادي کلونو کي د امریکا په ایوا پوهنتون کي د ماستری او پي اچ ډي تر منځ زده کړې کړي دي او د تېسز موضوع یې د لنډیو او خپلو شعرونو ژباړه وه. ما د دوی اثر د ایوا پوهنتون په کتابتون کي وکوت. ده د نورو برخلاف لنډی کلمه په کلمه نه دي ژباړلي بلکي د هري لنډۍ مفهوم یې د ازاد شعر په قالب کي انګلیسي کي لیکلی دی.
یوه بېلګه یې دا ده:

I know the widest space
In the world
My own bed
Without you

۳ .استاد نجیب الله منلي د ګل پاچا الفت د نثرونو یوه برخه، شپږ پنځوس لنډۍ، شپاړس پښتو شعرونه، او د افغاني شعرونو غورچاڼ فرانسوي ته او د پښتو معاصر شعر بېلګي یې انګریزي ته ژباړلي دي. د منلي صاحب ځیني ژباړې په دې پته خپرې شوې دي http://spalmey.blogspot.com/ :
۴ .په دې وروستیو کي ښاغلي فاروق سرور هم د څو تنو شاعرانو ځیني شعرونه انګریزي کړي او په تاند وېبپاڼه کي یې خپاره کړي دي.
۵ .اغلي ګلالی احد شل پښتو شعرونه او لنډۍ کیسی انګلیسي ته ژباړلي او په دې پاڼه کي یې خپاره کړي دي:

Translations/1594351910780983-Literary-
https://www.facebook.com/pages/Afghan

د ژباړې بېلګه یې دا ده:

I watch her From the edges of the light
Her voice like a flute Dancing to its own song

هغه د رڼا له حاشیي څارم غږ یې لکه د شپیلی خپلو سندرو ته ناڅيOman Niazi

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

۶ .په جرمني کې د نړۍ د معاصرو کیسو په لړ کې ۵۴ مه ګڼه یې افغانستان ته ځانګړې وه چې په ۱۹۷۷ کې چاپ شوې ده. په دې ټولګه کې د ګڼو افغان کیسه لیکوالو لنډۍ کیسې په جرمني ژبه خپرې شوې دي.
۷ .قیوم مروت د ښلاښلو لیکوالو د لنډو کیسو ټولګه (صرف شرفا کیلیې) اردو ته ژباړلې ده.
۸ .حمزه شینواري د رحمان بابا د کلیات یوه برخه اردو ته ژباړلې ده.
۹ .د پیر محمد کاکړ د دیوان یوه برخه، عابد شاه اردو ته اړولې ده.
۱۰ .امریکایي ژورنالیستې الیزا په دې وروستیو کې د مېرمن بهیر د غړو په مرسته ځینې لنډۍ راټولې کړې او انګلیسي ته یې ژباړلې دي چې
بشپړ آثار:
الف – اردو ژبې ته:
۱ .د رحمان بابا دیوان، ژباړونکی محمد طه.
۲ .د کاظم خان شیدا دیوان، ژباړونکی انورالحق
۳ .د سمڅې یاران، د سعدالدین شپون ناول، ژباړونکی راشد خټک
۴ .د بزګر لور، د نور محمد تره کي د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی؟
۵ .دا زه پاګل وم، د اجمل خټک د شعرونو ټولګه، ژباړونکی پخپله اجمل خټک
۶ .ځانمرګی، د محب الله زغم ناول، ژباړونکی امن افغان
۷ .پنځوس میلیونه، د عبدالوکیل سوله مل شینواري د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی راشد خټک
۸ .رنځورې هیلې، د سوله مل شینواري د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی راشد خټک
۹ .د اسیر منګل یو ناول ؟، ژباړونکی طاهر افریدي
۱۰ .د باسین سپېدې، د سلیمان لایق لنډې کیسې، ژباړونکی شاه محمد مري
۱۱ .د خوشال بابا کلیات، ژباړونکی پریشان خټک
۱۲ .دستارنامه. لیکوال خوشال بابا، ژباړونکی خاطر غزنوي
۱۳ .که رڼا شوه، لیکواله سلما شاهین، ژباړونکې پخپله سلما شاهین
۱۴ .پیغله، ناول، لیکوال صاحبزاده ادریس، ژباړونکی حیران خټک
۱۵ .د وینو جام، لیکوال اسلم خټک، ژباړونکی ؟
۱۶ .روهي ادب، لیکوال نواز طایر، ژباړونکی ؟
۱۷ .رحمان بابا، لیکوال دوست محمد کامل، ژباړونکی یوسف خان جذاب
۱۸ .د پښتو ادب او نوي ریجحانات، لیکوالان ښلاښل، راټولونکی عبدالله جان عابد
۱۹ .(مجهي محفوظ کرلو)، لیکوال ایوب صابر، ژباړونکی قیوم مروت
۲۰ .خړه ، لیکوال نورمحمد ترکی، ژباړونکی نورالسلام سنګر
۲۱ .سپین، لیکوال نورمحمد ترکی، ژباړنکی نورالسلام سنګر
ب – انګلیسي ته:
۱ .پټه خزانه، ژباړونکی ؟
۲ .پنځوس میلیونه، د عبدالوکیل سوله مل شینواري د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی راشد خټک
۳ .رنځورې هیلې، د سوله مل شینواري د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی راشد خټک
۴ .د غني خان د شعرونو یو کتاب، ژباړونکی صاحبزاده امتیاز.
۵ .زمونږ د کلي لارې، د زرین انځور لنډې کیسې، ژباړونکی؟
۶ .د اباسین سپېدې، د سلیمان لایق لنډې کیسې، ژباړونکی منوهر سینګ بترا
ج – فرانسوي ته:
۱ .ځانځاني ښامار یا اژدهای خودی، د پوهاند ډاکټر سید بهاالدین مجروح فلسفي ادبي اثر، فرانسوي ته. البته ښاغلی نجیب الله منلی په دې باور دی چې اژدهای خودی، ځانځاني ښامار، او فرانسوي ژباړه یې په حقیقت کې درې بېل بېل اثار دي.
۲ .د سباوون په تمه (aurore En attendant l’) د ښاغلي عبدالباري جهاني د شعرونو ټولګه، ژباړونکی نجیب منلی
۳ .د نارنج مربا (Confiture d’orange) د اغلي صفیې حلیم د لنډه کیسو ټولګه، ژباړونکی نجیب منلی
۴ .زهره، د استاد محمد صدیق پسرلي منظومه، ژباړونکی نجیب الله منلی
د – روسي ته:
۱ .پټه خزانه، ژباړونکی؟
۲ .د ګل پاچا الفت نثرونه، ژباړونکی؟
۳ .د اباسین سپېدې، د سلیمان لایق د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هـ - ایټالوي ته:
١ .پټه خزانه، ژباړونکی؟
و – جرمني ته:
١ .پټه خزانه، ژباړونکی؟
ز - هندي ته:
١ .پنځوس میلیونه، د عبدالوکیل سوله مل شینواري د لنډو کیسو ټولګه، ژباړونکی؟
ح – عربي ته
١ .غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، ژباړونکی محمد امان رسولي
یاده دي وي چي دا لیکنه ډېره نیمګړې ده او د ټولو ژباړل شویو پښتو اثارو معلومات په کي نشته بلکي یوازې هغه معلومات دي چي ما له ملګرو څخه تر لاسه کړي دي. د بشپړ فهرست برابرول یې نور اساسي کار غواړي چي افغان دولت کولای شي په بهرنیو هېوادنو کي د خپلو سفارتونو د فرهنګي څانګي په مرسته دا معلومات راټول کړي.
د دې لیکني لپاره معلومات مې له دغو دوستانو اخیستي دي: استاد نجیب الله منلی، نعمت الله صدیقي، رفیع الله نیازی، ظاهر شکیب، طایر ځلاند، راشد خټک، ابراهیم هوتک. له دې قدرمنو دوستانو مننه کوم.
نورو ژبو ته ژباړل شوي پښتو اثار په دریو ډلو ویشلای شو:
١ .هغه اثار یا د اثارو غورچاڼ چي اروپایي ختیځپوهانو (مستشرقینو) غوره کړي او بیا یې ژباړلي دي.
٢ .هغه اثار یا د اثارو ځیني برخي چي زموږ خپلو ژباړونکو ترجمه کړي دي.
٣ .هغه اثار چي پنځوونکو یې پخپله په یو چا ژباړلي دي.
د ژباړې لپاره د اثارو انتخاب مهمه موضوع ده. نورو ژبو ته زموږ ژباړل شوي اثار په حقیقت کې زموږ د ادبیاتو هینداره ده او نړۍ وال به زموږ ادبیاتو ته په هماغه سترګه وګوري چي موږ یې په هینداره کې ورښییو. په دې لحاظ، د لومړۍ او دویمي ډلي د اثارو په انتخاب کې د ژباړونکو ذوق، سلیقه، فکري تمایلات، سیاسي دریځ او ښایي نورې انګېزې نقش لرلای وي او په دریمه ډله کې بیا خپله لیکوال یا شاعر دا پرېکړه کړې ده چي اثر یې باید وژباړل شي. که د دریېمي ډلي د لیکوالو/ شاعرانو اثار ښه اثار وي نو ګټه به مو کړې وي او که په ټول پوره نه وي نو بیا به مو تاوان په کي وي ځکه چي ممکن بهرنیان ګومان وکړي چي ټول افغاني ادبیات به همدا شی وي او د نورو اثارو لوستلو ته به په اسانه زړه نه ښه کوي.
د ادبي اثر په تېره بیا د شعر ژباړه ډېره ستونزمنه ده. د کلاسیکو فورمونو لکه غزل، رباعي، مثنوي ... د شعرونو ژباړه خو د ناممکن برید ته رسېږي ځکه چي هغه وزن، آهنګ، موسیقي، د کلمو ضمني ماناګاني او نورې ځانګړنې نه شو ژباړلی. ازاد شعر بیا نسبتاً په اسانۍ سره ژباړل کېږي خو بیا هم هغه ریدم او موسیقي یې په اسانه بلې ژبې ته نه شو لېږدولی. د ځیني شعرونو
انګلیسي ژباړې چي ما کتلي دي، دغه ستونزه لري چي ژباړن یوازې د هرې کلمې معادله کلمه په انګلیسي کې پیدا کړې او لیکلې ده نور نو د آهنګ او موسیقۍ پروا یې نه ده کړه خو ځیني یې بیا په دې لحاظ ښې ژباړې دي.
اکثره پښتو اثار د شخصي او انفرادي هڅو په برکت نورو ژبو ته ترجمه شوي دي او کوم دولتي یا نادولتي ارګان نشته چي په دې برخه کې منظم کار وکړي.
د دې لپاره چي نړۍ والو ته د خپلو ادبیاتو ښې نموني وړاندې کړو، دغه وړاندیزونه لرم:
١ .د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې یوه کمیټه جوړه کړي چي غوره اثار په ښه کړي او ژباړونکو ته یې وروپېژني.
٢ .د ژباړل شویو اثارو بشپړ فهرست دې چمتو او خپور شي چي د عین اثر د بیا ژباړلو مخه ونیول شي.
٣ .د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې یو ګڼ ژبیز ویب سایټ جوړ کړي او د افغاني ادبیاتو ټول ژباړل شوي اثار دې په کې خپاره کړي. د دې کار لپاره په کار ده چي لومړۍ د دغو اثارو ژباړې پیدا، راټول او کمپوز شي.
٤ .د پښتو ادبیاتو هغه اثار چي د ارزښت په لحاظ یې کلاسیک مقام خپل کړی دی، معرفي شي. مثلاً د ګل پاچا الفت نثرونه، د استاد پسرلي شعرونه او نور.
٥ .هغه اثار چي ادبي جایزې یې ګټلي دي، باید معرفي شي. دغه اثار به په غوره اثارو کې حساب وي البته که چېرې جایزې په منصفانه ډول ورکړل شوې وي.
٦ .دا چي زموږ امکانات کم دي نو بهتره به وي چي د ژباړې لپاره د ډېرو شاعرانو/لیکوالو بهترینې کیسې او شعرونه غوره شي او په ګډو ټولګو (Anthology) کې چاپ شي.
٧ .که دولت یا بل څوک هر کال، د کال غوره کیسې او غوره شعرونه راټول او چاپ کړي، د ژباړونکو لپاره به مناسب مواد په لاس ورکړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ